د بېځايه شويو کسانو د تعقيب سيستم (ډي ټي اِم) | افغـــــــانستان

# د خلکو د تګ راتګ په اړه مختصر اوونيز راپور

د ۲۰۲۴ د جنورۍ ۲۱ - ۲۷، ارقام د شپې تر ۹:۰۰ پورې

## عمومي معلومات

د وروستيو خوځښتونو په ځواب کې، آی او ام افغانستان د ۲۰۲۴ په پيل کې د ډی ټی ام پروګرام د خلکو د تګ راتګ د جريان څارنې فعاليت بيا پيل کړل ترڅو د افغانستان په سرحدونو کې د خوځښت او تګ راتګ په اړه شبه پوه شی. د ۲۰۲۴ کال د جنورۍ په ۱۰ نيټې، ډی ټی ايم د ايران اسلامی جمهوريت او پاکستان سره په څلورو سرحدی پولو کې ساحوی ټيمونه ځای پر ځای کړل (لاندی نقشه وګورئ)، ترڅو دوه يو له بل سره تړلی يا اړوند فعاليتونه ترسره کړي. لومړی د ټولو هغو کسانو شميرل دی چې افغانستان ته راځی او يا د افغانستان څخه بهر وځي، چې د جريان د څارنې د شمير په نوم هم بلل کيږی، ترڅو افغانستان ته د راتګ او تګ شمير معلوم کړي. دوهم د نمونی په ډول د ځينو کساو يا ډلو سروې ده چې افغانستان ته د راتللو يا وتلو په حال کې ترسره کيږی، چې د جريان د څارنې سروې په نوم هم ياديږي، ترڅو د تلونکو او راتلونکو خلکو د ځانګړتياوو، هڅو او زيانمنتيا په اړه پوه شي. دا مختصر راپور مهم معلومات وړاندې کوي چې د آی او ام د معلوماتو د مختلفو سرچينو د يوځای کولو څخه لاسته راځی، لکه د آی او ام افغانستان د رارسيد څخه وروسته د بشری مرستو برنامه (سی بی پا ها) او همدارنګه د پاکستان او افغانستان ډی ټی ام څخه د جنورۍ له ۲۱ څخه تر ۲۷ مودې لپاره. د معلوماتو د راټولولو ميتودولوژي په اړه د نورو معلوماتو لپاره، د دې راپور وروستۍ پاڼه وګورئ.

**48,422** هغه خلک چې افغانستان ته راغلي

**42,187** هغه خلک چې د افغانستان څخه وتلي

### افغانستان ته د راتګ په اړه معلومات د سرحدي پولو پر اساس


| | هغه خلک چې افغانستان ته راستانه شوي | هغه خلک چې افغانستان ته راستانه شوي او اسناد لري | هغه خلک چې افغانستان ته راستانه شوي او اسناد نلري | هغه خلک چې د آی او ام څخه يې مرسته ترلاسه کړې |
|---|---|---|---|---|
| ايـــرن | 30,088 | نشته | 19,623*** | 4739*** |
| پاکستان | 18,334 | 321** | 1652*** | 1,484*** |

### د افغانستان څخه د وتلو په اړه معلومات د هيوادونو پر اساس

هغه خلک چې د افغانستان څخه وتلي


| | |
|---|---|
| ايـــران | 22,802 |
| پاکستان | 19,385 |

### د مرزي نقاطو پر اساس د تګ راتګ په اړه معلوماتي نقشه




وضاحـــــــــــــت: دا نقشه فقط د وضاحت لپاره کارول شوې ده او هيڅ کله د آی او ام لخوا د کومې رسمي ادعا يا موافقت په معنی نه ده

### د افغانستان څخه د مجموعی وتلو او راتللو په اړه معلوماتي چارټ (۱۰ تر ۲۷ جنورۍ)




* د معلوماتو د راټولو د ميتودولوژي په اړه د ډيرو معلوماتو لپاره ددی را پور آخری پاڼی ته د (آی او ام معلومات د راتګ په اړه) ته مراجعه وکړی
** اسناد لرونکی راستانه شوی ۲۵۷ نفر دی (پی او آر) کارت لرونکی او ۶۴ نفر دی (آی سی سی) کارتلرونکی دی د معلومات منبع: د پاکستان ډی ټی اِم
*** معلومات د افغانستان آی او ام د راتګ څخه وروسته د بشری مرستو د پروګرام (سی بی پا ها) لخوا ترسره شوی دا برنامه د هغه کسانو سره مرسته کوي چې افغانستان ته راستانه شوی وی او دا برنامه د سرحدی او مرزی کاری ګروپ په واسطه حمايه کيږی. د سرحدونو کاری ګروپ د آی او ام لخوا رهبری کيږيږ د لا ډيرو معلوماتو لپاره لاندی لينک ته مراجعه وکړی
https://afghanistan.iom.int/situation-reports.
**** ډی ټی اِم افغانستان د مختلفو ډلو په اړه چی دی وتو په حال کې دی معلومات نه راټولوی

# د بهر څخه هیواد ته راتګ: ۴۸,۴۲۲

افغان وګړي د ټولو هغو ۳۶۵۳ کسانو ۹۸٪ سلنه جوړوي چې (۲۱۱۹ د ایران سره په مرز کې او ۱۵۳۴ د پاکستان سره په مرز کې) د افغانستان د بېځایه شویو کسانو د تعقیب سیستم لخوا مرکه شوي او د ۲۰۲۴ کال د جنوری له ۲۱ تر ۲۷ پورې افغانستان ته راغلي. په لاندې معلوماتو کې یوازې هغه افغان وګړي شامل دي چې د تګ راتګ د څارنې او ارزونې د یوې برخې په توګه ورسره مرکه شوي.

## ځانــــــګړتیاوې

### د افرادو په اړه معلومات

عـــمر

| ښځې | | عمر | | نارینه |
|---|---|---|---|---|
| 1% | | 60+ | | 2% |
| 17% | | 18-59 | | 62% |
| 4% | | 6-17 | | 7% |
| 4% | | 0-5 | | 4% |

### اسناد او مدارک

- **67%** د هغه کسانو فیصدي چې د هغه هیواد معتبره ویزه یې نه درلوده د کوم ځای څخه چې راستانه شوي
- **65%** د هغه کسانو فیصدي چې د سرحد څخه د تیریدو لپاره یې معتبره پاسپورت نه درلود
- **27%** د هغه کسانو فیصدي چې معتبره تذکره نلري

### د زیانمنو ډلو شتون

- <1% هغه کورنی چې ماشومان بی سرپرستي کوي
- 3% هغه کورنی چې ښځې بی سرپرستي کوي
- 1% مزمن ناروغۍ او خاص ارتیاوو لرونکی کسان
- 2% حامله او شیدي ورکونکي ښځې
- 1% مجردې او تنها ښځې
- <1% بی سرپرسته ماشومان

## هیواد ته د راتګ دلایل او قصد

### هغه ځواب ویونکي چې د جمهوری اسلامی ایران څخه راستانه شوي

**هغه موده چې په ایران کې پاتې شوي یاست**

| | |
|---|---|
| 5% | د لنډې مودې لپاره > د یوې اوونۍ څخه کم |
| 53% | د متوسطې مودې لپاره > د یوې اوونۍ څخه زیاد تر یو کال پورې |
| 43% | د اوږدې مودې لپاره > د یو کال څخه زیاد |

**هغه ۳ عمده دلایل کوم دي چې تاسو یې د ایران پریښودو ته اړ کړئ**

| | |
|---|---|
| 61% | رد مرز یا دیپورت |
| 38% | داوطلبانه راتګ |
| <1% | اقتصادي مهاجرت د ۶ میاشتو څخه کم |

**هغه ۳ عمده دلایل کوم دي چې تاسو یې افغانستان ته راتګ ته اړ کړئ**

| | |
|---|---|
| 88% | کور/د ژوند لپاره |
| 12% | د کورنۍ د لیدلو لپاره |
| <1% | د ښو کاري فرصتونو لپاره |

**د څومره وخت لپاره به په افغانستان کې پاتې شي**

| | |
|---|---|
| 1% | د لنډې مودې لپاره > د یوې اوونۍ څخه کم |
| 5% | د متوسطې مودې لپاره > د یوی اوونۍ څخه تر یو کال پورې |
| <1% | د اوږدې مودې لپاره > د یو کال څخه زیاد |
| 22% | د دایم لپاره |
| 72% | نه پوهیږم |
| <1% | نه غواړم چې ځواب ورکړم |

### هغه ځواب ویونکي چې د پاکستان څخه راستانه شوي

**هغه موده چې په پاکستان کې پاتې شوي یاست**

| | |
|---|---|
| 15% | د لنډې مودې لپاره > د یوې اوونۍ څخه کم |
| 47% | د متوسطې مودې لپاره > د یوی اوونۍ څخه زیاد تر یو کال پورې |
| 38% | د اوږدې مودې لپاره > د یو کال څخه زیاد |

**هغه ۳ عمده دلایل کوم دي چې تاسو یې د پاکستان پریښودو ته اړ کړئ**

| | |
|---|---|
| 25% | د تداوۍ څخه ورسته راتګ |
| 21% | داوطلبانه راتګ |
| 21% | د کورنۍ د لیدلو لپاره |

**هغه ۳ عمده دلایل کوم دي چې تاسو یې افغانستان ته راتګ ته اړ کړئ**

| | |
|---|---|
| 94% | کور/د ژوند لپاره |
| 2% | د تداوۍ لپاره |
| 1% | د کورنۍ د لیدلو لپاره |

**د څومره وخت لپاره به په افغانستان کې پاتې شی**

| | |
|---|---|
| 2% | د لنډې مودې لپاره > د یوې اوونۍ څخه کم |
| 4% | د متوسطې مودې لپاره > د یوی اوونۍ څخه زیاد تر یو کال پورې |
| 3% | د اوږدې مودې لپاره > د یو کال څخه زیاد |
| 4% | د دایم لپاره |
| 86% | نه پوهیږم |
| <1% | نه غواړم چې ځواب ورکړم |


ایران اسلامي جمهوریت او پاکستان ته ډیری سفرونه له یو کال څخه لږ دوام کوي. پداسې حال کې چې له ایران څخه راتګ په عمده توګه ډیپورټ شویو او داوطلبانه راستنیدل دی، له پاکستان څخه په راتګ کې هغه کسان شامل وو چې د طبی درملنې بشپړولو یا د داوطلبانه راستنیدو سربیره د کورنۍ لیدو وروسته بیرته راستانه شوي. نارینه ځواب ویونکي چې له پاکستان څخه راځي ډیری یې د تداوۍ څخه ورسته راتګ (۲۷٪) او سوداګرۍ (۱۰٪) ته اشاره کړې، پداسې حال کې چې ښځینه ځواب ویونکې ډیری په داوطلبانه ډول بیرته راستنې شوې (۵۰٪). زمونږ همکاران دې ته اشاره کوي چې ډیری هغه کسان چې په خپله خوښه بیرته راستنیدو ته اشاره کوي په اصل کې په افغانستان کې د ناامنۍ له امله پاکستان ته تللي وو، او اوس بیرته راستانه شوي په دې باور دي چې امنیتي وضعیت ښه شوی. افغانستان ته د دریم هیواد ته د ټرانزیټ په نیت راتلل ډیر غیر معمول وو، د نږدې ټولو هغو ځواب ویونکو هدف چې د ایران اسلامي جمهوریت یا پاکستان څخه راځی افغانستان وو.

* د ۱۸ کالو څخه کم عمره وګړو پری ځای د هغوی په استازیتوب د نور ورسره مشرانو سره مرکه شوی

# د بهر څخه هیواد ته راتګ

هغه ولایات چې خلک ورغلي

هغه هیوادونه چې خلک ترینه راغلي



## د هیواد څخه بهر ته تګ: ۴۲,۱۸۷

افغان وګړي د ټولو هغو ۲۱۰۹ کسانو ۹۶٪ جوړوی چې (۹۷۸ د ایران سره په مرز کې او ۱۱۳۱ د پاکستان سره په مرز کې) د افغانستان د بېځایه شویو کسانو د تعقیب سیستم لخوا مرکه ورسره شوی او د ۲۰۲۴ کال د جنورۍ ۲۱ تر ۲۷ مودې په جریان کې د افغانستان څخه بهر تللی. لاندې معلومات یوازې د هغو افغان وګړو په اړه دی چې د تګ راتګ د څارنې او ارزونې د سروې د یوې برخې په توګه ورسره مرکې شوې دي.

**ځانګړتیاوې**

### د افرادو په اړه معلومات

| | عـمر | |
|---|---|---|
| 1% | 60+ | 2% |
| 12% | 18-59 | 75% |
| 3% | 6-17 | 3% |
| 2% | 0-5 | 2% |

### اسناد او مدارک

| | |
|---|---|
| 4% | د هغه کسانو فیصدي چې د هغه هیواد معتبره ویزه یې نه درلوده د کوم ځای څخه چی راستانه شوي |
| 4% | د هغه کسانو فیصدي چې د سرحد څخه د تیریدو لپاره یې معتبره پاسپورت نه درلود |
| 12% | د هغه کسانو فیصدي چې معتبره تذکره نلري |

### د هیواد څخه د تګ دلایل او قصد

#### هغه ځواب ویونکي چې جمهوري اسلامي ایران ته ځي

هغه موده چې په افغانستان کې پاتې شوي یاست

| | |
|---|---|
| 15% | د لنډې مودې لپاره > د یوې اونۍ |
| 32% | د متوسطې مودې لپاره > د یوې اونۍ څخه زیاد تر یو کال پورې |
| 53% | د اوږدې مودې لپاره > د یو کال څخه زیاد |

هغه ۳ عمده دلایل کوم دی چې تاسو یې د افغانستان پریښودو ته اړ کړئ

| | |
|---|---|
| 42% | اقتصادی مهاجرت د ۶ میاشتو څخه کم |
| 21% | اقتصادی مهاجرت د ۶ میاشتو څخه زیاد |
| 16% | د کورنۍ د لیدلو لپاره |

هغه ۳ عمده دلایل کوم دی چې تاسو یې ایران ته تګ ته اړ کړئ

| | |
|---|---|
| 56% | د ښو کاری فرصتونو لپاره |
| 15% | د کورنۍ د لیدلو لپاره |
| 8% | سیاحت |

د څومره وخت لپاره به په ایران کې پاتې شي

| | |
|---|---|
| 1% | د لنډې مودې لپاره > د یوې اونۍ |
| 92% | د متوسطې مودې لپاره > د یوې اونۍ څخه زیاد تر یو کال پورې |
| <1% | د اوږدې مودې لپاره > د یو کال څخه زیاد |
| 0% | د دایم لپاره |
| 6% | نه پوهیږم |
| 0% | نه غواړم چې ځواب ورکړم |

#### هغه ځواب ویونکي چې پاکستان ته ځی

هغه موده چې په افغانستان کې پاتې شوي یاست

| | |
|---|---|
| 5% | د لنډې مودې لپاره > د یوې اونۍ |
| 31% | د متوسطې مودې لپاره > د یوې اونۍ څخه زیاد تر یو کال پورې |
| 64% | د اوږدې مودې لپاره > د یو کال څخه زیاد |

هغه ۳ عمده دلایل کوم دی چې تاسو یې د افغانستان پریښودو ته اړ کړئ

| | |
|---|---|
| 53% | کور/د ژوند لپاره |
| 20% | د کورنۍ د لیدلو لپاره |
| 20% | صحی خدماتو ته نه لاسرسی |

هغه ۳ عمده دلایل کوم دی چې تاسو یې پاکستان ته تګ ته اړکړئ

| | |
|---|---|
| 42% | صحی خدماتو ته د لاسرسی لپاره |
| 32% | د کورنۍ د لیدلو لپاره |
| 8% | سیاحت |

د څومره وخت لپاره به په پاکستان کې پاتې شي

| | |
|---|---|
| 37% | د لنډې مودې لپاره > د یوې اونۍ |
| 47% | د متوسطې مودې لپاره > د یوې اونۍ څخه زیاد تر یو کال پورې |
| <1% | د اوږدې مودې لپاره > د یو کال څخه زیاد |
| 0% | د دایم لپاره |
| 16% | نه پوهیږم |
| 0% | نه غواړم چې ځواب ورکړم |


د پاسپورټ، ویزې او د سفری اسنادو درلودل د هغو کسانو په منځ کې نسبتا عام وو چې د افغانستان څخه بهر ځی. دا په داسې حال کې ده چې ډېری هغه کسان چې افغانستان ته راتلل د سفر اسناد یې نه درلودل. بهر ته دی تلونکو ځواب ویونکو لویه برخه هغه کسان وو چی د یو کال څخه د ډېر وخت لپاره په افغانستان کې د پاتې شوي وو، او دا ځواب ویونکو اکثریت افغانان دي او له همدې امله په نورمال ډول په افغانستان کې ژوند کوي. همدارنګه نږدې نیمایی هغو کسانو چې پاکستان ته تلل، ارقام داسی ښکاری چې دوی خپل دایمی استوګنځی ته ځی. پاکستان ته د هغو کسانو په منځ کې د تګ راتګ نور لاملونه هم شامل دی لکه د خپلوانو لیدنه او روغتیایی خدمتونو ته لاسرسی، دریمه برخه د ځواب ویونکو یوازې د یوې اونۍ څخه لږ وخت لپاره په پاکستان کې پاتې کیدو اراده لري. د ځواب ویونکو په منځ کې د سفر دلیلونه چې له افغانستان څخه د ایران اسلامي جمهوریت ته ځي ډېری د اقتصادي هڅو سره تړاو لري، لکه د شپږو میاشتو څخه لږ وخت لپاره اقتصادي مهاجرت (۴۲٪)، په ډېر احتمال موسمي کارونو ته اشاره شوي، او د شپږو میاشتو څخه لږ وخت لپاره اقتصادي مهاجرت (۲۱٪)

* د ۱۸ کالو څخه کم عمره وګړو پری ځای د هغوی په استازیتوب د نور ورسره مشرانو سره مرکه شوی
** دا ارقام د مصاحبه شوی کسانو د ځوابونو پر اساس دی او د اثبات لپاره یی کوم ځه نشته

## د هیواد څخه بهر ته تګ

هغه ولایات چی خلک ترینه ځی

هغه هیوادونه چې خلک ورځي



## د آی او اِم معلومات افغانستان ته د تګ راتګ په اړه

ډی ټی ام افغانستان، ډی ټی ام پاکستان، او د آی او ام افغانستان له راتګ څخه وروسته بشری مرستې پروګرام (سی بی پا ها) مختلف میتودونه کاروي ترڅو افغانستان ته د راتلونکو کسانو مختلف ډیموګرافیک معلومات راټول کړی. لاندې د جریان چارټ د راستانه شویو خلکو د فرعی ډلو تر مینځ اړیکې روښانه کوی او دا چې څنګه آی او ام خپل مختلف فعالیتونه او میتودولوژي کاروی ترڅو افغانستان ته د راتګ په اړه دقیق او جامع معلومات رامینځته کړي

1 **ټول هغه خلک چې افغانستان ته راغلی**
دا معلومات د ایران او پاکستان سره په مرز کی راټول شوی

ډی ټی ام افغانستان د هر فرد تګ راتګ، پرته د تابعیت، اسناود وضعیت، یا په افغانستان کې د پاتې کیدو پلان په پام کې نیولو سره، چې د سپین بولدک، اسلام قلعه، میلک او تورخم سرحدي پولو څخه افغانستان ته راځي شمیري. دا فعالیت د جریان د نظارت په نوم هم پیژندل کیږی. ډی ټی ام افغانستان خپل پر جریان څارنې سروې فعالیت په کارولو سره د شمیرل شویو کسانو څخه ځینی په نمونی ډول سروې کوی

2 **افغانستان ته بیرته راستانه شوي خلک**
دا معلومات پاکستان سره به مرز کی راټول شوی

ډی ټی ام پاکستان د هغو افغان وګړو شمیر راټولوي چې د سپین بولدک او تورخم له لارې افغانستان ته راستنیږی. بیرته راستانه شوي کسان د هغو افغانانو په توګه طبقه بندی شوي چې اراده لری بیرته راستانه شي او د اوږدې مودې لپاره په افغانستان کې ژوند وکړی، د هغو کسانو په پرتله چې یوازې د سوداګری لپاره سفر کوي یا په موقت ډول افغانستان ته سفر کوي. د ایران له اسلامي جمهوریت سره په سرحد کې ورته فعالیت نشته

3 **افغانستان ته بیرته راستانه شوي خلک چې اسناد اومدارک لري**
دا معلومات پاکستان سره به مرز کی راټول

4 **افغانستان ته بیرته راستانه شوي خلک چې اسناد اومدارک نلري**
دا معلومات د ایران او پاکستان سره به مرز کی راټول شوی

د اسناود لرونکو راستنیدونکي شمیر د پاکستان ډی ټی ام د معلوماتو څخه ترلاسه شوي. د بې اسناده راستنیدونکی شمیر افغانستان ته له راتګ څخه وروسته بشری مرستې (سی بی پا ها) له معلوماتو څخه ترلاسه شوی

5 **هغه خلک چې د آی او اِم لخوا ورسره مرسته شوی**
دا معلومات د ایران او پاکستان سره به مرز کی راټول شوی

افغانستان ته له راتګ څخه وروسته د بشري مرستو برنامه (سی بی پا ها) د سپین بولدک، اسلام قلعه، میلک او تورخم سرحدي نقطو ته نږدې د استوګنې په مرکزونو کې له بې اسناده افغان کډوالو سره مرسته کوي


## د هغه افغانانو په اړه معلومات چې ورسره مرسته شوي

د آی او ام افغانستان د افغانستان ته له راتګ څخه وروسته بشری مرستو پروګرام (سی بی پا ها) د هغو افغان کډوالو په اړه معلومات راټولوي چې سرحد ته نږدې د استوګنی د مرکزونو څخه تیریږی او د آی او ام او سرحدي کاري شریکانو څخه مرسته ترلاسه کوي. د سرحد کاري ګروپ د آی او ام لخوا رهبري کیږی. د نورو معلوماتو او د سرحدي کاری ګروپ په اړه معلوماتو ته د لاسرسي لپاره، د لاندې لینک څخه لیدنه وکړئ
[https://afghanistan.iom.int/situation-reports](https://afghanistan.iom.int/situation-reports).

د هغه کسانو مجموعی شمیر چې افغانستان ته له راتګ څخه ورسته دی آی او اِم لخوا ورسره مرسته شوي


د جمهوري اسلامي ایران څخه بیرته راستانه شوي

اسلام قلـــــعه





د پاکستان څخه بیرته راستانه شوي

سپین بولدک




میلـــــــــک




تـــــورخم

